مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

فدامحمد نومیر

۲۰۲۶/۰۱/۱۱

# دري او پښتو

د بخدي په غرو رغو کې سوم راستره
پیغلتوب مې و ساته په شان د نره

الفبأ یې په سوغات کې را له راکړه
لونګین هار مې را څوړند کړ په ټتره

د زمان مجبوریتونو سره بیل کړو
خور مې ولاړه په سفر تر اشنغره

د یوې مور په لمن کې یو روزلې
غمازان مو بیلوي له خپل ټبره

ښایسته نوم د دري مور دی راکړی
پښتنه پیغله پښتو دي وي سل سره

دښمنان مې زیږیده د پرون بولي
زیږیدلي تر عیسی ها خوا دري زره

نه پاړسو نه پهلوي سره مې ځنګ سي
یم کمیاب په سمندر کې ملغلره

د اغیارو سترګې برګې راته سرې دي
د تهمت څخه بري یم سل په زره

شکر چا څه پاته نه یم په ستایو کې
د نیویورک ښاروال مې ستایې پر منبره

پښتانه د دواړو ژبو ګوینده دي
تعصب ورک سه په رېښه کې له بشره

چې تړي یې په پردو پوري پردي دي
سپین سپین ووایه نومیره قلندره

ډیسمبر - ۲۸ - ۲۰۲۵
متحده ایالات - جنوبي کلفورنیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ